# الله - تعالى - خپل لاس شپه مهال غوړوي تر څو د ورځې ګنهکار توبه وباسي، او د ورځې خپل لاس غوړوي تر څو د شپې ګنهکار توبه وباسي، تر دې چې لمر د لوېديځ له خوا راوخيژي

له ابو موسى الاشعري رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «الله - تعالى - خپل لاس شپه مهال غوړوي تر څو د ورځې ګنهکار توبه وباسي، او د ورځې خپل لاس غوړوي تر څو د شپې ګنهکار توبه وباسي، تر دې چې لمر د لوېديځ له خوا راوخيژي».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې: الله تعالى د خپلو بندګانو توبه قبلوي، كه بنده د ورځې ګناه وکړي او د شپې توبه وباسي، نو الله يې توبه قبلوي، او كه د شپې ګناه وکړي او د ورځې توبه وباسي، نو الله يې توبه قبلوي. او هغه پاک ذات د بنده په توبه خوشحالېږي نو لاس ورته غوړوي او قبلوي يې او د توبې دروازه تر هغه وخته پورې خلاصه ده چې لمر له لوېديځ څخه راوخېژي چې دا د نړ د پای ته رسېدو نښه ده، نو كله چې راوخېژي د توبې دروازه بندېږي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4318